# كه څوک خوښ ګڼي چې الله تعالی يې د قيامت د ورځې له سختيو څخه وساتي؛ نو د نادار او بې وزله لاس نيوی دې وکړي، او يا دې ورته پرېږدي

له ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه د خپل پوروړي پسې ورغی، هغه ترې پټ شو، بيا يې وموند او ويې ويل: زه په سختۍ کې يم (لاس مې تنګ دی او څه نه لرم)، هغه وويل: ستا دې په الله قسم وي؟ ويې ويل: په الله قسم؟ هغه وفرمايل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «که څوک خوښ ګڼي چې الله تعالی يې د قيامت د ورځې له سختيو څخه وساتي؛ نو د نادار او بې وزله لاس نيوی دې وکړي، او يا دې ورته پرېږدي».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

ابو قتاده الانصاري رضي الله عنه د يو قرضدار په لټه کې و چې ترې پټېده، هغه يې ومونده، نو قرضدار ورته وويل: زه نادار يم او ستا د پور د ادا کولو لپاره پيسې نه لرم. نو ابو قتاده رضي الله عنه ورته قسم ورکړ چې پيسې نه لري؟ نو په الله يې قسم وکړ چې په خپله وينا کې رېښتونی دی. ابو قتاده رضي الله عنه وايي چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدلي چې ويل يې: که څوک خوښ ګڼي او خوشحالېږي چې الله جل جلاله يې د قيامت د ورځې له سختيو او وحشتونو څخه وساتي نو د تنګ لاسي پوروړي سره دې سختي نه کوي، يعنې نېټه دې ورته اوږده کړي او پور دې ترې ورورسته وغواړي، او يا دې ورته د پور يوه برخه او يا ټول وبخښي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee